د مجاهد دمسئولیتونو لړۍ ٦

# داسلامي شريعت د حاكميت لپاره به څوک قرباني وركوي؟

شيخ
إبراهيم الربيش
رحمه الله



مكتبة دار الصدق
Daar-ul-Sedq

# د کتاب ځانګړنې

**د کتاب نــوم:** **داسلامي شريعت د حاکميت له پاره به څوک قرباني ورکوي؟**

**لیــــــــکوال:** الشيخ ابراهيم بن سليمان الربيش «رحمه الله»

**ژبـــــــــاړن:** مولوی عبدالرحيم «آخندزاده»

**دچاپ کـــال:** ۱۴۳۷ هـ ق

**د چاپ ګڼــه:** لومړی

**د چاپ شمير:** ۲۰۰۰ ټوکه

**ناشــــــــــر:** دار الصدق خیرندویه اداره

Daar-ul-Sedq

**انتــرنيت پته:** د تويتر لنــک : www.twitter.com/daarulsedq

د فسبوک لنک : www.facebook.com/daarulsedq


**د دې کتاب نشر او توزيع د ځان لپاره صدقه جاريه و ګرځوی**

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على الصادق الامين نبينا محمد و آله وصحبه ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين، اما بعد:

ای الله! ټول صفتونه او ستاینې تا لره دي، ته هغه ذات يې چې په سليم فطرت سره دې پيداكړو، او د اسلام په نعمت سره دې رالوی كړو. تا مونږ ته ايمان محبوب كړ او په زړونو كې دې راته ښايسته كړ، او كفر، بدكاري او نافرماني دې راته بده وګرځوله، نو ای الله ﷻ ته مونږ له سمه لار موندونكو وګرځوا!

يقينا چې د اسلام له نعمت سره بل كوم نعمت برابر نه دی، هغه د موجوداتو د شتون راز او داسې پېرزوينه ده كه چېرې له كوم بنده څخه واخيستل شي نو د حيواناتو په څېر به وګرځي، بلكې له هغوئ به هم بدتر شي. د هغه چا وينا رېښتينې ده چې ويلي يې دي: «څومره ښه دين دی كاشكې چې سړي يې درلودلی، او دا څومره لوی دين دی خو ارمان چې پيروانو يې د سرلوړۍ او غلبې لپاره كوښښ كړی وای!!»

دا يو حقيقت دی چې د اسلام سپېڅلي دين د ژوند ټولې چارې منظمې كړې دي، او د خلكو د عامو او خاصو ګټو ترمنځ يې عجيبه پيوستون راوستلی دی.

د ژوند هر اړخ يې مهذب او مضبوط كړی دی، او له خوبه له رابيدارېدلو واخله تر ويده كېدلو پورې د هر ساعت لپاره يې ښوونې ټاكلې دي.

داسې دين چې انسان ته وركې د ويده كېدلو طريقه او آداب په ګوته شوي دي، او د دې څرګندونه ورته هم شوې ده چې خوب ليدل به يا سهي د زيري په شكل كې وي، يا به د كوم سوچ او خيال زېږنده وي چې لدې امله به هېڅ اعتبار نه وركول كېږي، او يا به شيطاني خوب وي چې له فكره وېستل به يې لازم وي.

نو آيا بل كوم يو دين له دغسې دين څخه لوی او غوره كېدلی شي؟

**د الله ﷻ پريكړې او حكم ته پوره تسليمېدل**

رینښتینی مسلمان هغه دی چې په حقه سره د الله ﷻ عبادت وکړي، خپل دین ته غاړه کېږدي او عمل وربانديې وکړي. همداراز په حقه سره مؤمن د الله ﷻ لخوا په راغلي دين کې د خپل ځان خواهش او د انسانانو رغبتونو ته نه ګوري، او نه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ په حکم او دستور باندې د بشر رايه او فکر مخکې کوي.

هغه رینښتینی مسلمان چې بې له زړه نا زړه والي يې د الله ﷻ امر ته لبیک ويلی وي، بې له چون او چرا دا کافي ګڼي چې دا د الله ﷻ حکم دی باید چې ورته غاړه کېږدم او د هغه په وړاندې تسلیم شم.

الله ﷻ فرمايي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾﴾ [النساء: ٦٥]

«ای محمده! ستا په رب قسم چې دوئ هېڅکله مؤمنان کېدای نه شي تر څو چې دوئ په خپل منځي شخړو کې تا فیصله کوونکی ونه مني، بیا چې ته څه فیصله وکړې پر هغې باندې په خپلو زړونو کې هم د څه تنګۍ احساس نه کوي؛ او له سر يې تر پایه پورې ومني».

نو باید چې مسلمان د الله ﷻ د حکم او پرېکړې په منلو کې له خپل زړه هره تنګي او حرج لرې کړي، او په پوره توګه ورته تسلیم شي، ترڅو يې ایمان سهي او مقبول وګرځي.

رینښتینی مسلمان په کامله توګه د الله ﷻ عبادت کوي، په دین باندې پوره منګولې لګوي، د ديني احکامو ترمنځ توپیر نه کوي، بلکې همغسې يې عملي کوي لکه څرنګه چې د الله ﷻ لخوا راغلي دي. د هغه شان او خاصیت دا نه وي چې ټولنیز نظام له اسلام نه واخلي او اقتصادي نظام له غرب نه. یا دا چې

لمونځ فرض ګڼي خو له جهاد نه انکار کوي. بلکې د دين ټول کارونه په بشپړه توګه مني او عملي کوي يې لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ..﴾ [البقرة: ۲۰۸]

«اى مومنانو په دين کې پوره داخل شئ».

امام ابن کثير رحمه الله د دې آيت په تفسير کې ويلي دي: «الله ﷻ پدې آيت کې پداسې حال کې چې پر ده باندې ايمان لرونکو او په رسول ﷺ باندې تصديق کوونکو بندګانو ته امر کوي داسې وايي چې هغوئ دې د اسلام ټولې کړۍ کلکې ونيسي، د هغه ټولې کړنلارې دې عملي کړي، د هغه په ټولو امرونو باندې دې عمل وکړي، او له ټولو منع شوو کارونو څخه دې د خپل توان برابر منع شي».

هر څوک چې د اسلامي شريعت کومه کړنلاره د کوم سبب له وجې پرېږدي نو په هغه کې د يهودو يوه شبه او همرنګي موجوده شي، يهودو ته الله ﷻ وويل:

﴿أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ.. ﴾ [البقرة: ۸۵]

«آيا تاسې د تورات په ځينې احکامو باندې ايمان لرئ او له ځينو يې سر غړونه کوئ؟!»

رښتينی مسلمان بې له دې چې د انسانانو رايو ته وګوري د الله ﷻ په وينا باندې عمل کوي، الله ﷻ فرمايي:

﴿ فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ [غافر: ١٤]

«نو د الله ﷻ عبادت وکړئ پداسې حال کې چې ټول عبادت او دين هغه ته خالص کوئ که څه هم چې کافران دا کار بد ګڼي».

بايد پدې پوه شو چې کله يو مسلمان په خپل دين او عبادت کې مخلص وي بيا د دين په کارونو او چارو کې دې ته نه ګوري چې دا انسان به رانه خوښ او يا ناخوښ شي، بلکې د الله ﷻ په خوښۍ او رضا کولو پسې ګرځي.

**کافران څه غواړي؟**

په نني عصر کې چې کفري ولسونو د اسلام پر ضد د جنګ بیرغ راپورته کړی دی، هغوئ مسلمانان لدې څخه نه منع کوي چې د اسلام ځینې کارونه دې وکړي، بلکې هغوی لدې وېرېږي داسې نه چې مسلمانان د اسلام په ټولو کړنلارو باندې عمل وکړي.

کافران له هغه چا سره د سولې ژوند تیروي څوک چې د اسلام په یو څو ځانګړو شعایرو باندې اکتفاء کوي، هغوئ د هغه چا په مقابل کې اسلحه نه راپورته کوي چې هر وخت په لمانځه ولاړ وي او همیش روژې نیسي. بلکې د هغوئ ویره له هغه چا ده چې په اسلام باندې کاملا عمل کوي، د لمانځه او روژې سره سره جهاد هم کوي، او د ولاء او براء پر عقیده باندې هم کلک ولاړ وي.

پدې کې شک نشته چې د الله ﷻ دښمنان په اسلام باندې له پوره عمل کوونکو څخه د خطر احساس کوي. هغوئ د دغسې خلکو او د الله ﷻ د خالص دین د له منځه وړلو په خاطر خپل ځواکونه را مرش کوي. نوپر مونږ او تاسې باندې فرض او لازم دي ترڅو په پوره توګه پر خپل دین باندې عمل وکړو، هغه دین چې د خلکو له هوسونو او خواهشاتو سره نه دی ګډ شوی، او نه پکې له کافرانو سره د کوم سازش لاره شته ده. الله ﷻ فرمایي:

﴿ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةً...﴾ «ای مومنانو په دین کې پوره داخل شئ».

کله چې الله ﷻ مونږ ته په دې آیت کې په دین کې په پوره داخلېدلو باندې امر وکړ نو له هغې وروسته یې وفرمایل:

﴿ولا تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ﴾ [البقرة: ۲۰۸]

«او د شیطان د قدمونو پیروي مه کوئ بېشکه چې هغه ستاسې ښکاره دښمن دی».

ځيني مسلمانانو ته شيطان په ښلابښلو لارو راغی او دې ته يې وهڅول ترڅو د دين ځينې مهم کارونه او فرايض پدې خاطر پرېږدي چې کافران ورځخه ناخوښه نه شي، او يا يې هغوئ بد ياد نه کړي. نو بايد پدې پوه شو چې هغه مسلمانانو چې د الله ﷻ له لوري راغلي اوامر او فرضي کارونه يې د کافرانو د جنګ له وېرې او يا د هغوئ د مذمت له وجې پرېښودل، په حقيقت کې دوئ شيطان تېر ايستل او دوکه يې کړل.

حقيقت دادی چې د جهاد د فريضې ترک کول او د مسلمانانو له ژوند څخه د شريعت حاکميت غايب کېدل په نني عصر کې د اسلامي امت لپاره يو لوی ذلت دی.

خومره د افسوس خبره ده چې کافران زمونږ په دين کې لاس وهنې کوي او د اسلامي سپيڅلي شريعت پر ځای مو د بشر په لاس د جوړ شويو او د غير الله په خوښې سره د رامنځته شوو قوانينو منلو ته اړ باسي.

آيا تاسې ونه ليدل چې ډېر مسلمانان دغسې قوانينو ته سرټيټي شول. په اسلامي هېوادونو کې بې دينه خلک قدرت ته ورسېدل، د الله ﷻ د قانون حاکميت له صحنې نه ووتلو، حال دا چې ډېر مسلمانان پدې باندې نه پوهېږي.

**غرب له څه شي ډېره وېره او کرکه لري؟**

لکه مخکې مو چې څرګندونه وکړه غرب له اسلام نه په سختې وېرې کې دی. د غرب واکداران له لمانځه او روژې نه وېره نه لري، بلکې د هغوئ وېره له دې څخه ده چې داسې نه چې اسلامي شريعت په بشپړ ډول نافذ او حاکم شي، دوئ فکر کوي چې پدې سره به زمونږ حکومت ختم شي، او يواځې د الله ﷻ سلطه او حکومت به رامنځ ته شي.

دا يو حقيقت دی چې که چيرې د الله ﷻ دين حاکم شي نو د دې به دا معنا وي چې کافران دې نور له مسلمانانو منع شي، پر اسلامي هېوادونو دې حکومت نه

کوي، او نه دې د مسلمانانو شتمنۍ په مفته او بې معاوضې وړي او اخلي. دغه حقیقت لویدیځ ښه درک کړی دی، نو له همدې امله هغوئ هېڅکله د اسلامي شریعت حاکمیت ته اجازه نه ورکوي، او په ټولو لارو يې مخنیوی کوي.

په تاسف سره یې باید یادونه وکړو چې له یاد شوي واقعیت او حقیقت څخه ډېرو مسلمانو داعیانو ځانونه په ناخبرۍ کې واچول، هغوئ دا ګومان وکړ چې د منبر په خطبو، د خلکو د پوهاوي په تقریرونو، او د رسالو په وېشلو به د شریعت تطبیق کولوته ورسېږي، پداسې حال کې چې هغوئ دا نه ده درک کړې چې دغسې سپیڅلي هدف ته رسېدل بې له قربانۍ او سرښندنې ممکن نه دي.

که چېرې دغه دعوتګران ولسونه د شریعت د حاکمیت په ضرورت باندې پوه کړي، نو لکه څرنګه چې مسلمان ولسونه د طاغوتي حکومتونو په رانسکورولو باندې توان لري د دې توان او طاقت هم لري چې پر حکومتونو د شریعت د تطبیق لپاره فشار راوړي، او بیا د دې غوښتنې د نه پوره کېدلو په صورت کې د هغوئ له امر منلو څخه سرغړونه اختیار کړي.

قسم په الله ﷻ دی چې ما د دې امید کولو چې د هغوئ خبرې به حق وي، لکن داسې ونه شول، زه یو ځل د خبرو اترو په مجلس کې ناست وم، نو له یو جناب نه مې وپوښتل:

آیا ته ګومان کوې چې بې له جهاد کولو به شریعت نافذ شي؟

هغه په هو سره ځواب راکړ، بیا یې د رسول الله ﷺ هغه لیکونه په دلیل کې ذکر کړل کوم چې یې کافرو باچاهانو او حاکمانو ته لېږلي وو. او دا یې وویل که پدې کار کې فایده نه وای نو رسول الله ﷺ به دغه کار نه ؤ کړی.

پداسې حال کې چې له ما سره  د رسول الله ﷺ د لیکونو په اړه پوهه وه. خو زه دغسې خبرې ته حیران شوم؛ ځکه د هغه دغه ځواب پدې دلالت کولو چې دی د پېښو په واقع کېدلو باندې ناپوه دی.

**شهید سید قطب رحمه الله ویلي دي:** ((کاشکې هلته داسې یوه آسانه لاره وای ترڅو په اول ځل په ژبه سره دعوت او د اسلامي احکامو په بیانولو سره اکثریت خلک ټول اسلام ته په یو ځل راګرځیدلي وای. دا هسې ارزوګانې دي. هېڅکله هم اکثریت خلک له جاهلیت، او د طاغوت له بندګۍ څخه د اسلام دین او یواځې د الله ﷻ بندګۍ ته نه راګرځي، مګر له هغه ورو مزله او اوږدې لارې چې د اسلام دعوت پکې هر ځل روان شوی دی. هغه لاره چې لومړی یې یو وګړی پیل کوي بیا یو جماعت او ډله. بیا دغسې ډله د جاهلیت په مخکې په حرکت راځي، بیا هغوئ ته پدې لار کې تکلیفونه رسېږي، تر دې چې الله ﷻ د دوئ او نامنونکي قوم ترمنځ په حقه سره فیصله وکړي، په پای کې همدوئ ته په ځمکه کې واک ورکړي او بیا خلک د الله ﷻ په دین کې ډلې ډلې داخل شي)).

<u>**آیا د انتخاباتو له لارې اسلامي شریعت تطبیق کیدلی شي؟**</u>

ځیني خلک چې کله پدې پوه شول چې غرب هېڅکله د مکمل شریعت په حاکمیت باندې نه راضي کېږي نو د هغه په اجازه یې د شریعت د ځینې احکامو د تطبیقولو لار ونیوله. او بیا د انتخاباتو صندقونو ته ورمخکې شول، همدا راز د قانون سازۍ هغو مجالسو او پارلمانونو ته په تیزۍ ورغلل په کومو کې چې د الله ﷻ له قانون نه پرته نور قوانین جوړېږي، او دا کار یې د الله ﷻ په لار کې له جهاد کولو څخه وګڼلو. او پدې امید سره چې ګویا دوئ به د شریعت مطابق قوانین رامنځ ته کړي نو د اسلام ضد قوانیو د احترام کولو په سوګند پورته کولو کې شامل شول، او دغسې کفري کارونه یې جایز او روا وګڼل.

آیا د دغسې مسلمانانو دا خبره هېره ده چې که دوئ د پوره شریعت په تطبیقولو کې کامیاب هم شي، نو دغه کار به د قوانینو د مجلس د اکثریت غړو په رایو سره تطبیق کېږي، نه د الله ﷻ د حکم او امر له مخې. او **آیا الله ﷻ به له مونږ نه**

پدې راضي شي چې د هغه شريعت د دښمنانو په اجازت سره نافذوو؟! څرنګه به د الهي شريعت د حاکميت جوګه وګرځو وروسته له هغې چې د هغه د مخالفو قوانيو په احترام باندې قسم وکړو؟!

او ځينو نورو خلکو د شيطان په لمسون سره ګمان وکړ چې د الهی شريعت له تطبيقولو نه مخکې د غرب رضايت، د هغه دوستي او حمايت ضروري دی، نو ډېر په حيرانوونکي شکل او په ډېرې بيړې ياخو د غرب په ائتلاف کې شامل شول، او يا يې دا په ډاګه اعلان کړه چې مونږ اسلامي دولت نه غواړو!! دوئ دا کار پدې بهانه اوعذر وکړ چې اوس مونږ د دې کار توان نه لرو، خو کله چې مو قدرت اوتوان پيداکړ نو دا کار به کوو.

دا خلک که پدې کار باندې بريالي هم شي نو له هغې وروسته چې په څرګند او صريح کفر کې داخل شول الله ﷻ به ورځخه څنګه راضي شي؟

ښاغلی استاذ محمد قطب وايي: «زه ډير په اخلاص سره هغو دعوتګرانو ته وايم چې د جمهوريت او ديموکراسۍ چيغې وهي: بيشکه دغه ديموکراسۍ کومه چې په نړۍ کې موجود ده هېڅکله به د هغې له لارې اسلام حاکميت ته ونه رسېږي؛ دا ځکه چې هغه د اسلام له بنسټونو او التزاماتو سره اساسي تعارض لري. دا يو حقيقت دی چې د ديموکراسۍ په نظام کې لومړی شی چې له عمل نه غورځول کېږي هغه د الله ﷻ لخوا په راغلي قانون عمل دی.

نو زه ډير په اخلاص سره تاسې ته لومړی وايم چې ديموکراسي به هېڅکله تاسې اسلام ته ونه رسوي. دويم درته وايم هغه څوک چې د ديموکراسۍ د لوبې نګراني کوي داسې خلک دي چې هر وراني کوونکي او فاسد ته په ځمکه کې د واک ورکولو دروازې خلاصوي. پداسې حال کې چې اسلام ته يې نه خلاصوي. د الجزائر قضيه تر اوسه پورې لا تازه ده او د خلکو له حافظوڅخه نه ده هېره

شوې. په ديموكراتيک نظام كې هرې ډلې ته دا حق شته چې په پارلمان كې دې اكثريت ولري پرته له مسلمانانو».

بايد چې له خپلوځانونو او له خلكو سره صراحت كوونكي و اوسو، هغه څه چې مونږ يې غواړو هغه اسلام دی، هغه كوم بل نوم نه لري. او دغه دعوتګران دې دا ګومان نه كوي چې كه دوئ خپل اصلي هويت پټ كړي او د ديموكراسۍ ګنده اوزړې جامې واغوندي نو اجازت به ورته وركړ شي، او يا دا چې كامياب به شي، داسې هېڅكله نه ده. بايد چې مونږ د دښمنانو په بې ځايه دعوو ونه غولېږو، هغوئ د ښكار د سپيو په څېر دي، او تاسې ته به معلومه وي چې د ښكار سپي د بوي كولو قوي ځواک لري چې له لرې نه بوي كول كوي.

بايد چې مونږ په ډاګه سره د حق اعلان وكړو، الله ﷻ فرمايلي دي:

﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾ [الحجر: ٩٤]

نو ای پيغمبره! د كوم شي چې تا ته يې حكم كېږي هغه په لوړ اواز ووايه او د مشركانو د جنګ او اعتراض پروا مه كوه.

د استاذ محمد قطب وينا مو د هغه له كتاب (**لا اله الا اللّه عقيدة، وشريعة ومنهاج حياة**) څخه نقل كړه. نوموړی كتاب چې يو مهم كتاب دی پكار ده يې هر مسلمان چې (لا اله الا الله) وايي، هغه ولولي.

**د الجزائر انتخاباتو ته يو نظر**

په الجزائر كې د (**جبهة الانقاذ**) قضيه بايد د هغو خلكو له ياده ونه وځي له چا سره چې د شريعت د نافذولو حرص دی. هلته خو نه د جنګ اعلان و، او نه د هغه لپاره تياری كېدلو. خو يوازې د انتخاباتو د نتايجو په راوتلو سره د الله ﷻ دښمنانو د اوسپنې او اور په زور سره مداخله وكړله، ترڅو د انتخاباتو په نتايجو

کې تصرف وکړي او په غړولو سترګو مسلمانه ډله (جبهة الانقاذ)، له خپل ګټل شوي حق څخه محرومه کړي.

په واقعي توګه نن سبا غربي نړۍ پر وضعه باندې مسلطه ده، هغه هېڅکله اسلامي شریعت ته نه قایلېږي، او نه یې د حاکمیت له پاره کوم ځای او مجال پرېږدي. کله چې هم د شریعت په لورکوم ګام پورته کول پیل شي نو د مخنیوي لپاره یې د اسلام د دښمنانو او په ځانګړې توګه د غربي نړۍ لخوا او یا د غرب د پلویانو لخوا په مختلفو بهانو مقابله پیل شي.

**پر اسلامي هېوادونو او سیمو باندې یرغلونه**

پدې ځای کې مونږ د اسلامي نړۍ د بیلابیلو سیمو حالات ستاسې په وړاندې ږدو:

۱- کله چې په افغانستان کې د طالبانو حکومت قایم شو نو اسامه بن لادن رحمه الله ته د پناه ورکولو په دلیل کفري ځواکونو په بیړه سره پر هغه هېواد باندې برید وکړ. په دې بریدونو او جګړه کې دکفري ځواکونو هدف یواځې د اسامه بن لادن قضیه نه وه، بلکې د هغوئ جګړه د شریعت پر ضد وه، او په حقیقت کې اسامه بن لادن ته پناه ورکول د شریعت د تطبیق پر بنسټ ؤ.

۲- په صومال کې چې کله په محاکمو کې اسلامي شریعت نافذېدل اعلان شول نو د هغو د نیولو او پرهغو د یرغل کولو لپاره افریقایي ځواکونه په کرایه باندې ورروستل شول.

۳- په یمن کې حوثي ډلې پراخه ځمکې ونیولې، لکن د هغوئ د ځپلو له پاره د حکومت مقاومت ډېر کمزوری ؤ. خو کله چې انصار الشریعة (د شریعت حامیانو) د یمن پر یوې سیمه باندې تسلط وکړ، او هلته یې اسلامي شریعت نافذ کړ نو د صلیبیانو او د هغو د ایجنټانو کینې او غصې راوپارېدلې، هماغه ؤ چې د یمن حکومت د حوثیانو پر ضد جنګ ودرولو، او د انصار الشریعة پرضد یې په

جګړه لاس پورې کړ، د هغې سیمې پر کوروونو يې ړندې بمبارۍ وکړې، معصوم ماشومان او ښځې يې ووژلې، او کوروونه او کلي يې وران کړل، پر هغې سیمې باندې د یمن حکومت دا جنایتونه پدې دلیل او بهانه وکړل چې ګويا د هغه ځای اوسېدونکو انصار الشريعة ته ځای ورکړی دی.

د نوموړي حکومت دغه جګړه د شریعت او د هغه د حامیانو له امله وه، نه د هېواد د دفاع په خاطر. او که داسې وای نو بیا په کار وه چې لومړی پر حوثيانو باندې لاس پورې شوی وای؛ ځکه چې له څو کلونو راهیسې هغوئ د یمن پر ځينو برخو باندې مسلط دي، او اهل السنة والجماعة ته سخت سخت تکلیفونه او اذيتونه ورسوي.

<u>د هغوئ جګړه د شریعت د مخنیوي لپاره ده</u>

که مونږ دا خبره ریښتیا وګڼو چې د افغانستان پر ضد جګړه پدې خاطر ده چې هلته مجاهدینو ته پناه ورکړل شوې وه، عراق پدې وځپل شو چې د نیواکګر مخنیوی يې کولو. یا په صومال کې د مجاهدینو، او په یمن کې د انصارالشريعة پر ضد جنګونه پدې خاطر ؤ چې د تیلو سوداګري يې له ګواښ سره مخ کړې وه؛ ځکه چې د سوداګرۍ لارې دې هېوادونه ته نژدې واقع دي، نو بیا د شام په خاوره کې د مجاهدینو څه ګناه وه؟

او هغه څه ؤ چې له امله يې یرغلګر د (مالي) په هېواد کې د انصار الدين پر ضد جنګ کولو ته اړ کړل، نوموړی جماعت چې د القاعده نوم نه لري، نه يې د نصاراو په کومه شتمنۍ باندې سیطره لرله. نه يې ګاونډیانو ته ګواښ درلود، بلکې د صحراء په یوې برخې باندې يې له سمندر څخه لرې قبضه کړې وه.

او که دښمنان د ملګري هېواد د مرستې او کومک بهانه کوي نو یمن چې ملګری هېواد دی له کلونو راهیسې د حوثيانو له مزاحمت او مقاومت نه شکایت لري، همدارنګه سوډان دوست دولت دی چې د جنوب له نصاراو څخه له څو

لسیزو راهیسې شکایت لري، نو ولې د دغسې ملګرو هېوادونو مرستې ته هغوئ راونه دانګل؟

حقیقت دادی چې هغوئ له مؤمنانو سره پدې بهانه او دلیل دښمني کوي چې دوئ یواځې پر الله ﷻ باندې ایمان لري، او په ځمکه کې د هغه شریعت نافذوي.

الله ﷻ فرمايي:

﴿وَمَا نَقَمُواْ مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ﴾ [البروج: ٨]

«او دې کافرانو بد نه ؤ ګڼلي له هغوئ څخه مګر دا چې هغوئ ایمان راوړی ؤ په زورور او ستایل شوي الله ﷻ باندې».

کله چې کفري ملتونو خپلې لښکرې راټولې او رامرش کړې، فرانسې خپل فوځونه او پیلوټان په خطر کې واچول، او مسلکي جنګیالي یې د قرباني میدان ته وړاندې کړل، آیا دا ټول د یوه دوست او سخت فقیر هېواد په خاطر وو؟ نه هېڅکله نه، بلکې د هغوئ جګړه د شریعت د نافذولو پرضد ده.

**راځئ چې ټول د شریعت د حاکمیت لپاره جهاد وکړو!**

ټول مسلمانان د دې امید لري او غواړي چې د الله ﷻ شریعت دې حاکم شي، او که څوک دغسې امید نه لري نو بیا دې د خپل اسلام په اړه تجدید نظر وکړي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ﴾ [النساء : ٥٩]

«که چېرې تاسې په کوم کار کې جګړه او اختلاف وکړ نو الله ﷻ او د هغه پیغمبر ته یې راجع کړئ، که چېرې تاسې په الله او د آخرت په ورځ باندې ایمان لرئ».

متاسفانه هغه کسان چې د شریعت د حاکمیت لپاره کوښښ کوي ډېر کم دي، او څوک چې پدې لار کې سرونه ورکوي هغوئ خو لا بیخي کم دي، نو راځئ

چې د شريعت نافذول يواځې ارزو نه بلکې د هغه لپاره عملي کوښښ وکړو، او له خپلو مهمو هدفونو يې وګرځوو.
تاسې به درک کړي وي، او پدې باندې معاصر تاريخ هم ګواه دی چې د کافرانو زيات او سخت جنګ د هغه چا په مقابل کې وي څوک چې اسلامي شريعت نافذول غواړي که څه هم چې په سوله ييز ډول وي. نو پدې اساس د توحيد بيرغ به نه هسک کېږي مګر د موحدينو په کېريو باندې. همدارنګه هېڅ يو هېواد به د شريعت په حکومت ښېرازه نه شي ترڅو چې د شريعت حاميان ورکې خپله برخه وينه ور نه کړي.
تر هغه پورې چې مسلمانان د دين له کومې برخې نه تېر نه شي، او يا داسې يو قوت پيدا نه شي چې د هغه حمايت وکړي نو دا حتمي ده چې د شريعت د حاکميت لپاره د هرې بلنې په مقابل کې به د اسلام پر ضد د نړيوال اتيلاف لخوا جنګ کېږي، او اسلامي امت به د شريعت د حکومت نعمت تر هغه پورې ونه ګوري ترڅو چې د دې امت مخکښ او تکړه فدايان په خپله د الله ﷻ په لار کې شهادت او قرباني ته وروړاندې نه شي. او که دغسې کار وشي نو بيا به د هغوئ د سرښندنو په برکت پاتې امت د شريعت د نظام په نعمت کې واوسېږي.که يو څوک پدې لار کې په ځان سره تيار نه وي نو بايد چې خلک پدې پوه کړي چې د شريعت حاکميت بې له سرښندنو اوقربانيو نه راځي.
د بې دينه حکومتونو او نظامونو پر ځای د اسلامي حکومت او د شريعت د نظام راوستل د وينو قرباني ته اړتيا لري. بايد چې پدې قضيې باندې ځانونه پوه کړو، او نور خلک هم وربانديې پوه کړو، ترڅو د شريعت د حاکميت د غوښتنې په هغه کمه درجه خلکو کې خو شامل شو.
که يو څوک ووايي چې تاسې مونږ څرنګه د الله ﷻ د قانون پلي کولو ته رابلئ پداسې حال کې چې پدې قضيه کې د کفري ملتونو پر ضد جګړې ته بلنه هم راځي؟

په ځواب کې وايو چې (ولوکره الکافرون– که څه هم کافران دا کار بد ګڼي).
آيا مونږ به د دې انتظار کوو ترڅو کفري ولسونه راته د شريعت د نافذولو اجازه راکړي؟ که داسې وي نو بيا خو به مونږ نامراده او تاوانيان شو.
راځئ د قرآن کريم دې آيت ته ځير شو چې:
﴿فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ [غافر: ١٤]
«نو يواځې د الله ﷻ عبادت وکړئ پداسې حال کې چې عبادت او دين خالص هغه ته وګرځوئ که څه هم کافران دا کار بد وګڼي».
او کله چې مونږ او تاسې د هر فرض لمانځه نه وروسته دا کلمه وايو چې:
(لا اله الا اللّٰه مخلصين له الدين و لوکره الکافرون) «له الله ﷻ نه پرته بل حق معبود نشته دی، مونږ هغه ته د عبادت خاص کوونکي يو، که څه هم چې کافران بد وګڼي».
نو د دې آيت او دغې کلمې معنا دا افاده کوي چې د الله ﷻ اوامر عملي کړو، او پدې کې د شريعت نافذول هم راځي.که څه هم چې کافران دا کار بد وګڼي او د هغه له وجې زمونږ په مقابل کې جنګ وکړي.
دځينو مسلمانانو يو لوی مصيبت او ازمايښت دا ګمان کول دي چې ګويا د شريعت د تطبيق په خاطر زمونږ پر ضد د کافرانو جنګ مونږ ته دا روا کوي ترڅو ورڅخه تېر شو او له هغوئ سره سازش وکړو.
دغو خلکو ته مونږ وايو چې که کفري ملتونه رايوځای شي او د رمضان د مياشتې له روژه نيولو څخه مو منعه کړي نو آيا پدې حالت کې يو څوک دا ويلی شي چې راځئ د هغوئ خبره ومنو او دغه فريضه پرېږدو؛ ځکه چې د هغوئ له طرفه راته ګواښ متوجه دی؟! بلکې پدغسې حالت کې ځواب دا دی چې مونږ به د رمضان مياشت روژه نيسو، او که مونږ ټول پدې لار کې ووژل شو نو بيا به

شهيدان يو. د شريعت پلي کول هم د الله ﷻ فرضي حکم دی، او کوم آيتونه چې پدې باره کې راغلي دي د روژې له فريضې څخه يې شمير زيات دی.

بايد چې مونږ د يهودو له همرنگۍ او مشابهت نه ځانونه وساتو، الله ﷻ هغوئ ته خطاب کوي او فرمايي:

﴿أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ﴾ [البقرة: ٨٥]

«آيا د تورات په ځينو آيتونو باندې ايمان لرې او ځينې يې نه منئ؟!»

د شريعت حاکميت او د هغه نافذول به له مونږ څخه ډول ډول قربانۍ لکه وطن پرېښودل، زخمي کېدل او شهيد کېدل غواړي؛ دا ځکه چې دا هغه عزت او سرلوړي ده چې بې له دې منځ ته نه راځي. بلکې لدې نه مخکې هغه د الله ﷻ امر دی، مونږ پدې مامور يو چې د دغسې عزت او سرلوړۍ د حاصلولو لپاره له هېڅ ډول قربانۍ ځانونه ونه سپموو.

که مونږ غواړو چې له فلسطين څخه يهودان ووځي، او د شام ځمکه له نصيرې ډلې نه پاکه شي نو آيا دغه کار بې له سرښندونو ممکن دی؟

همدغه سرښندنې او قربانۍ وې چې امريکا يې له عراق نه وتلو ته مجبوره کړه او قذافي يې سره له خپل حکومته په ليبيا کې چپه کړ.

د مسلمانانو د لويو هدفونو او سترو موخو ترلاسه کېدل د خو ورځو او يا څو مياشتو خبره نه ده، بلکې د هغې له پاره مستمرو قربانيو ته ضرورت دی. او دا چې اسلامي امت له کلونو راهسې په ژور خوب کې شپې او ورځې تيروي نو د هغې د رابيدارولو له پاره لويو کوښښونو ته اړتيا ده.

شهيد سيد قطب رحمه الله وايي: ((بيشکه ټولې هغه سرښندنې چې د الله ﷻ په لار کې جهاد يې غوښتنه کوي د دې لپاره دي چې په ځمکه کې يواځې د يوه الله عبادت وشي، بشريت د طاغوتانو او بتانو له بندګۍ نه آزاد شي، انساني ژوند د

عزت هغه کنارې ته ورپورته شي چې الله ﷻ يې انسان ته اراده کړې ده. هغه ټولې قرباني چې د الله په لار کې جهاد يې غواړي د هغې برابر يا له هغې نه ډېرې يې هغه څوک هم کوي چې د غير الله پيروي يې کړې ده)).

هغه څوک چې لدې وېره لري چې د الله ﷻ په لاره کې په جهاد کولو به له تعذيب او درد سره مخ شي، شهيدان به شي، نفسونه، اولادونه او مالونه به يې تلف شي، نو هغوئ دې پدې کې فکر او غور وکړي چې غيرالله ته د سرټيټولو په صورت کې به ورته په ځانونو، اولادونو او مالونو کې څومره تاوان وشي، چې بيا لدې ټولو تکليفونو او تاوانونه څخه به زيات تاوان د هغو له پلوه د مسلمانانو پت او عزت پيمالېدل او اخلاق کچه کول وي. د طاغوتانو په مقابل کې د جهاد في سبيل الله لګښتونه او تکاليف دا ټول دومره نه دي کوم به چې بيا غير الله ته د سرټيټۍ په صورت کې لګول کيږي. بلکې له هغې سره سره او له هغې نه پورته به په ذلت، چټلي او شرم کې وخت تيرول هم وي)).

په پای کې زه هر هغه مسلمان ته چې د طغيان په مقابل کې راپورته شوی وی، او د مستبدو حاکمانو د اطاعت رسۍ يې له خپلې غاړې نه ويستلې وي دا آواز کوم چې:

**ای د الله ﷻ بندګانو** پدې پوه شئ چې د شريعت د حاکميت قضيه له هغو قضاياو څخه نه ده په کومو کې چې اختيار وي او رای اچونې ته پکې ضرورت وي، او يا د ولسونو رغبتونو ته پکې کتل کېږي. بلکې هغه د اسلام په دين کې قطعي امر دی چې د الله ﷻ لخوا فرض شوی دی. نو څوک چې يې ومني هغه مسلمان دی، او څوک چې يې رد کوي نو د اسلام رسۍ يې له خپلې غاړې لرې کړه او د اسلام په مقابل کې يې بل دين قبول کړ، که څه هم چې لمونځ کوي روژه نيسي او وايي چې زه مسلمان يم. مونږ دوه اختياره لرو چې دريم پکې نشته دی لکه څرنګه چې يې الله ﷻ په دې آيت کې بيان کړې دی:

﴿أَفَحُكۡمَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ يَبۡغُونَۚ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكۡمٗا لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ﴾
[المائدة: ٥٠]

**«آيا هغوئ د جاهليت فيصله غواړي، پداسې حال کې چې کوم خلک چې پر الله ﷻ باور لري د هغو په نزد له الله ﷻ نه بل غوره فيصله کوونکی هېڅوک نشته دی».**

**نو يا دا چې د الله ﷻ په شريعت باندې به فيصلې کوو، او که داسې نه وي نو بيا جاهليت دی، که څه هم چې دغه خبره څوک بده وګڼي.**

**ناشر**

Daar-ul-Sedq

**دار الصدق خپرندويه اداره**



سلسلة سؤالیت های مجاهد ۱
ای مُجاهد
سلسله سؤالیت های مجاهد
۵
چی کسی باید بهای
حاکمیت شریعت اسلامی
را بپردازد؟
شیخ
Daar-ul-Sedq